مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ډاکټر محمدآجان مرزئ
۲۰۲۲/۰۱/۲۶

# په ترکیه کې انفلاسیون

**سریزه**

انفلاسیون د یوې ټاکلي مودې لپاره د بیو عمومي کچې د لوړېدو له امله رامنځته کېږي. په دې حالت کې توکو او خدماتو ته مجموعي تقاضا یا غوښتنه د مجموعي عرضې په پرتله پرله پسې زیاتېږي او په نتیجه کې د بیو کچه لوړېږي. دا ډول انفلاسیون پر تقاضا ولاړ انفلاسیون دي. خو د دې ترڅنګه پر لګښت ولاړ انفلاسیون هم د لوړ مزد او معاش، لوړې مالیې، د خامو موادو لوړې بیې او د تولیدی وارداتی موادو له امله هم رامنځته کېداي شي. سربېره پر دې د انفلاسیون رامنځته کېدو لپاره نور لاملونه هم موجود دي، خو باید وویل شي چې دا ټول لاملونه په مختلطه توګه په عین وخت کې د انفلاسیون د رامنځته کېدو لامل ګرځېدلاي شي. په بل عبارت انفلاسیون هم د تقاضا او هم د عرضې له لارې ځېږل کېداي شي. په ترکیه کې د انفلاسیون لاملونه له یوې خوا د ترکیې دولت مالي او د پیسو سیاست دی او له بلې خوا سیاسي عوامل دي چې په دې هېواد کې د انفلاسیون لامل ګرځېدلي دي.

**د انفلاسیون نظریې ته لنډه کتنه**

کلاسیک او مونیتاریست اقتصادپوهان انفلاسیون په لومړي سر کې د پیسو مقداري نظریې له مخې څېړي او تشریح کوي او په دې آند دي چې د پیسو د مقدار او بیو تر منځ اړیکه موجوده ده. د دې نظریې له مخې باېد په ملي اقتصاد کې د تعادلي حالت رامنځته کولو لپاره د ټولو تولید شوو محصولاتو حجم د ټولو پېرودل شوو محصولاتو له حجم سره مساوی وي. دا نظریه له یوې خوا د پیسو عرضه او د دوران سرعت او له بلې خوا د بیو کچه او د معاملاتو حجم څېړي. هغوی دا نظریه د دې معادلې له لارې تشریح کوي چې د فیشر د تبادلوي معادلې په نوم هم یادېږي:

$$M \cdot V = P \cdot T$$

M = د پیسو عرضه
V = د پیسو دوران سرعت یا چټکتیا
P = د بیو عمومي کچه
T = د مجموعي معاملاتو حجم یا ناخالص کورني محصولات

په دې معادله کې د معاملاتو حجم مجموعي عرضه $(AS = T)$ ده او مجموعي تقاضا $(AD = (M \cdot V) / P)$ ده. د دې معادلې پر بنسټ په بازار کې هغه وخت تعادلي حالت رامنځته کېږي چې د مجموعي عرضې کچه د مجموعي تقاضا له کچې سره مساوي وي، په بل عبارت باید $T = (M \cdot V) / P$ وي. په دې معادلې کې د پیسو مقداري نظریې له مخې د پیسو دوران سرعت (V) او د معاملاتو حجم (T) په لنډمهاله توګه ثابت فرض شوی دی، یعني دا چې په دې توګه د پیسو په عرضې کې د (x) بدلون پر مهال د بیو په کچه کې هم (x) بدلون رامنځته کېږي. کله چې په ملي اقتصاد کې د پیسو عرضه دوه چنده شوله، د بیو کچه هم دوه چنده کېږي. له بلې خوا کلاسیک اقتصاد پوهان په دې آند دي چې پیسې په اقصاد کې بېطرفه دي او یوازې د تبادلې وسیله ده او د پیسو په عرضه کې بدلون یوازې د مطلقو بیو د بدلون لامل ګرځي نه د نسبي بیو. خو باید وویل شي چې د دې نظریې یو مهم کمښت دا دی چې په ملي اقتصاد کې نور عوامل چې د انفلاسیون لامل ګرځېدلای شي، لکه د معاملاتو حجم او د پیسو د دوران سرعت ثابت فرضوي.

د پیسو کلاسیکي نظریې برخلاف د مونیتاریزم نظریې له مخې پیسې په لنډمهاله توګه د محصولاتو بر نسبي بیه یا اسمي کورنیو ناخالصو محصولاتو او په اوږده مهاله توګه پر مطلقو بیو اغېز غورځوي او په دې توګه په لنډمهاله توګه د استخدام پر کچه اغېز رامنځته کولای شي (چودهري - ۲۰۲۱). د دې نظریې له مخې هم د پیسو عرضه پر اقتصاد ټاکونکی اغېز لري او له همدې امله په ملي اقتصاد کې د پیسو پر عرضې کنټرول له انفلاسیون څخه د مخنیوي لامل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ګرځېدالی شي. مونیتاریستان د کلاسیکو اقتصادپوهانو په شان په دې آند دي چي دولت باېد د پیسو سیاست له لارې اقتصادي ودې ته شرایط برابر کړي. په بل عبارت باېد دولت د مرکزي بانک په مرسته د پیسو پر عرضه کنترول ولري. او دا کار د ټولو د مخه د سود نرخ له لارې ترسره کېږي. د دې نظریې له مخې د بیو په کچه کې بدلون د پیسو په حجم کې د بدلون له امله رامنځته کېږي. که د بیو کچه د اقتصادي ودې د کچې په پرتله زیاته شي نو انفلاسیون رامنځته کېږي. په بل عبارت په بیو کې بدلون د پیسو د عرضې او اقتصادي ودې ترمنځ د توپیر انعکاس دی. که په ملي اقتصاد کې د پیسو عرضه د اقتصادي ودې په پرتله زیاته شي نو دا حالت د انفلاسیون لامل ګرځي. دلته مرکزي بانک په لومړي سر کې د سود نرخ په کارونه د پیسو عرضې او تقاضا ترمنځ تعادل رامنځته کوي. د دې نظریې له مخې پیسو ته تقاضا د نورو استهلاکي محصولاتو په شان د عرضې او تقاضا له مخې رامنځته کېږي؛ هرڅومره چي یوه محصول ته تقاضا زیاته وي په هماغه اندازه یې بیه لوړېږي او برعکس هرڅومره چي محصولاتو ته تقاضا کمه وي په هماغه اندازه یې بیه ټیټېږي. د سود نرخ په واقعیت کې د پیسو د ترلاسه کولو بیه ده. په بل عبارت، هرڅومره چي د سود نرخ لوړ وي په هماغه اندازه پیسو ته تقاضا کمېږي او برعکس. مرکزی بانک د خپل پولي سیاست په چوکاټ کې کولای شي د سود نرخ د بدلولو له لارې پر کورنیو ناخالصو محصولاتو او انفلاسیون اغېز رامنځته کړي.

د پولي سیاست له لارې په لومړي سر کې په بازار کې د سود نرخ بدلون مومي، بانکونه او نور مالي بنسټونه دې ته اړ کېږي چي له دې بدلون سر سم د سپما او پورونو لپاره د خپل سود په نرخ کې هم بدلون رامنځته کړي. د دې ترڅنګه د سود په رسمي نرخ کې بدلون د زیاتو شتمنیو پر بیه هم اغېز غورځولای شي، لکه ونډې، کورونه او داسي نور. د سود نرخ د نوې کچې له امله د هېواد پولي واحد ته په بهر کې د تقاضا د بدلون له امله د پولي واحد د تبادلې نرخ هم بدلون موندلای شي. او د دې ترڅنګه د سود نرخ بدلون د تصدیو او مستهلکینو پر تمو یا توقعاتو باندې هم اغېز رامنځته کولای شي. بنایي د سود په نرخ کې بدلون راتلونکې ته د هغوی تمه په مثبته او یا هم منفي توګه اغېزمنه کړي.

په بازار کې دا ټول بدلونونه د تصدیو او مستهلکینو د مصرف په بڼه کې بدلون رامنځته کوي. د بېلګې په توګه د سود لوړ نرخ د مجموعي تقاضا کچه ټیټولای شي، ځکه چي د سود لوړ نرخ پر مستهلکینو مالي فشار رامنځته کوي او هغوی دې ته اړ باسي چي خپل لګښت کم لړي. که د سود نرخ د بدلون له امله د پولي واحد د تبادلې نرخ کې بدلون رامنځته شي، نو دا حالت په صادراتو او وارداتو کې هم د بدلون لامل ګرځېدلای شي.

په پای کې په مجموعي تقاضا کې بدلون د محصولاتو د تولید او د انفلاسیون نرخ د بدلون لامل ګرځي. دا حالت د مجموعي عرضې او مجموعي تقاضا له نسبي کچو سره تړاو لري، په دې معنی چي که په ملي اقتصاد کې په پوره اندازه تولیدي ظرفیتونه موجود وي نو بنایي چي د مجموعي تقاضا لوړېدل د انفلاسیون لامل ونه ګرځي او د تولید او استخدام د کچو د لوړېدو لامل شي. خو دا ډول اغېزې باېد په ملي اقتصاد کې د یوه هېواد اقتصادي ودې ته په کتنه وڅېړل شي (ایشیکا - ۲۰۲۱).

**په ترکیه کې انفلاسیون**

په ترکیه کې انفلاسیون مخ پر زیاتېدو دی. د دې حالت اساسي عامل په بازار کې د پیسو د عرضې زیاتېدل دي. پوښتنه دا ده چي کوم عوامل د ترکیې په ملي اقتصاد کې د پیسو عرضې د زیاتېدو لامل ګرځېدلي دي؟ له دغو یو هغه د ترکیې دولت انبساطي بودجوي سیاست دی. د دې سیاست له مخې د دولت د لګښتونو کچه د هغه د عوایدو د کچې په پرتله زیاته وي یا په بل عبارت بودجوي کسر لري. هېوادونه په ځینو حالاتو کې د اقتصاد د رغونې لپاره د انبساطي بودجې له لارې زیار باسي چي په ملی اقتصاد کې د مجموعي تقاضا یا غوښتنې کچه لوړه کړي. دولت د خپلو لګښتونو له لارې په ملی اقتصاد کې تولید او هم مصرف تشویقوي. دولت دا ډول لګښتونه په لومړي سر کې په بنسټیزو پروژو کې کاروی. په دې توګه د خصوصي تصدیو تولیدی کړنې د دولت له خوا د انکشافي پروژو له لارې زیاتېږي، چي په پایله کې یې د کار بازار هم وده کوي او په ملي اقتصاد کې هم د مؤلدینو او هم د مستهلکینو غوښتنه یا تقاضا زیاتېږي. دا کار تر یوی اندازې پورې د اقتصاد د رغونې لامل ګرځي.

ترکیه د خپلې کسري بودجې د تمویل لپاره له Monitization (د عاېد له ترلاسه کول) څخه کار اخلي. هېوادونه د دې کار لپاره یا اضافي پیسې نشروی چي عملي کول یې د اقتصادي قوانینو له مخې محدود دي، او یا دا کار د مرکزي بانک په مرسته ترسره کوي. په داسي یوه حالت کې مرکزي بانک هېواد ته د دولتي پورونو اسنادو د پېرودنې له لارې مالي وسیلې چمتو کوي. په دې توګه په بازار کې د بپسو عرضه زیاتېږي او له دې امله انفلاسیوني حالت رامنځته کېدای شي. د دې شونتیا هم موجوده ده چي له دې امله د خلکو د سپما کچه ټیټه شي او خصوصي متشبثین ونشي کولای په کورني مالي بازار کې د خپل تولید تمویل لپاره په پوره اندازه پورونه ترلاسه کړي او په نتیجه کې خپل تولید محدود کړي او یا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

يي ودروي. يعني دولتي پور اخستنه په ځينو حالاتو کې په ملي اقتصاد کې د بهر غورځوني اغيز (Crowding Out Effect) رامنځته کولای شي.

د انفلاسيون نرخ د لوړېدو پر مهال په بازار کې د سود نرخ ټيټېږي او دولت کولاي شي چې له آزاد بازار څخه په ارزانه توګه پيسې ترلاسه کړي. له دې لارې مرکزي بانک په غيرمستقيمه توګه دولت ته په مالي چارو کې مرسته کوي، په داسي حال کې چې د مرکزي بانکونو اساسي دنده د پيسو سياست په ډګر کې پرته ده. په بل عبارت دولتونه د پور له لارې د پيسو زيرمې ترلاسه کوي او په دې توګه پر خپلو پورونو د سود نرخ ټيټ ساتي. خو که له دې لارې د دولتي لګښتونو تمويل له حده زيات شي نو په ملي اقتصاد کې انفلاسيون رامنځته کېږي، چې پايلې يې همدا اوس د ترکيې په ملي اقتصاد کې ګورو (Investopedia -۲۰۱۸).

په دې توګه په ترکيه کې د انفلاسيون يو بل لامل د مرکزي بانک د سود نرخ ټيټول دي. يعني په ترکيه کې له يوې خوا د کسري بودجې له امله په ملي اقتصاد کې د پيسو عرضه زياته شوې ده چې د انفلاسيون او د سود ټيټ نرخ لامل ګرځي او له بلې خوا دولت هم د مرکزي بانک سود نرخ ټيټوي، چې په خپل وار انفلاسيون لا نور هم زياتولای شي، ځکه چې د مرکزي بانک د سود ټيټ نرخ د دې لامل ګرځي چې په اقتصادي دوران کې د پيسو عرضه زياته او په نتيجه د پيسو ارزښت کم شي. په ترکيه کې د ۲۰۲۱ ميلادي کال په پيل کې د مرکزي بانک د سود نرخ ۱۹ % او د همدې کال په پای کې ۱۴ % و (countryeconomy.com - ۲۰۲۲).

زما په آند د ترکيې ولسمشر اردوغان، اوس مهال په ترکيه کې د مرکزي بانک سود نرخ د ځينو دلايلو له مخې نه لوړوي، سبېره پر دې چې په هېواد کې د انفلاسيون نرخ لوړ دی. د سود ټيټ نرخ پر مهال د پور اخستل آسانېږي، ځکه چې څرنګه چې مخکه اشاره ورته وشوه د سود نرخ د بيسو د ترلاسه کولو بيه ده. له دې امله له يوې خوا د ترکيې دولت ته په هېواد کې د ننه د کسري بودجې د تمويلو لپاره پور اخستنه ارزانېږي او له بلې خوا تصدی او هم مستهلکين توليدي او استهلاکي مصرف ته راپارول کېږي، پانګه اچونه او مصرف زياتېږي او دا کار د اقتصادي ودې په يوه معينه کچه کې د اقتصادي پرمختګ لامل ګرځي. خو په انفلاسيوني حالت کې اقتصادي واحدونه هغه ګټې چې د سود ټيټ نرخ له لارې ترلاسه کوي د پيسو ارزښت د کمېدو له لارې بېرته له لاسه ورکوي.

د ترکي ليرې ارزښت په تېر ميلادي کال کې ۴۴ % کم شو. د دې حالت يو لامل د ترکيې مرکزي بانک له خوا د سود نرخ پر له پسې ټيټول و. دا حالت هم د انفلاسيون د لا نور زياتېدو لامل ګرځي. که انفلاسيون تر يوه ټاکلې حد زيات شي، نو هم پر توليد او هم مصرف ناوړه اعيزې رامنځته کوي. د بېلګې په توګه په ترکيه کې د تېر ميلادي کال د دسامبر په مياشت کې د ژوند لپاره د لګښت کچه د تېر کال په پرتله په منځنۍ توګه ۳۶،۱ % لوړه شوې وه. د ترکيې د احصايې اداري د معلوماتو له مخې د تېر ميلادي کال په پای کې د خوراکي موادو بيه ۴۴ % لوړه شوې وه. د بيو دا ډول لوړېدل په لومړي سر کې پر هغو کسانو ډېر ناوړه اغيز رامنځته کوي چې کم عايد لري. د پولي واحد د ارزښت ټيټېدل نه يوازې د خلکو د حقيقي عايد کچې د ټيټېدو لامل ګرځي، بلکه د هېواد پولي واحد د تبادلې پر نرخ هم ناوړه اعيز رامنځته کوي او د وارداتو بيه لوړېږي. ترکيه خامو موادو، نيم کاره موادو او د تېلو د مخه د نفت او ګاز وارداتو ته اړ يو هېواد دی. د تېر ميلادي کال په پای کې د برښنا او ګاز بيه د مؤلدينو لپاره ۱۲۵ % او د مستهلکينو لپاره ۵۰ % لوړه شوه (FAZ - ۲۰۲۲). د اقتصادپوهانو په آند د ترکيې اقتصادي ودې لپاره تر ۵% انفلاسيون مثبت اوسېدلاي شي. خو د تېر کال د دسامبر په مياشت کې په دې هېواد کې د انفلاسيون نرخ ۳۶ % ته ورسېد (بي بي سي - ۲۰۲۲).

د انفلاسيون، د سود نرخ او پولي واحد د تبادلې نرخ تر منځ نږدې اړيکې موجودې دی. د سود ټيټ نرخ په هېواد کې د بهرنيو پانګو د کمښت لامل ګرځي او په دې توګه په بهر کې د هېواد پولي واحد ته تقاضا کمېږي او د تبادلې نرخ يې ټيټېږي. بهرني پانګوال په يوه هېواد کې هغه وخت پانګې اچونې ته لېوالتيا ښکاره کوي، چې د ټولو د مخه د هغه پولي واحد نسبي ثبات ولري. هېوادونه په خپله هم کولای شي له پولي سيستم سره په تړاو د خپل پولي واحد په ارزښت کې تر يوه حد بدلون رامنځته کړي. بهرني پانګوال د ټولو د مخې په هېوادونو کې د دولت له خوا د پولي واحد ارزښت له ناڅاپي ټيټولو وېره لري (Investopedia-a - ۲۰۲۱).

د هېوادونو د پولي واحد د تبادلې نرخ په نړېوالو سوداګريزو معاملاتو کې، په جاري حساب کې د کسر له امله هم ټيټېږي. په ترکيه کې د جاري حساب کسر په ۲۰۲۰ ميلادي کال کې د کورنيو ناخالصو محصولاتو ۴،۹ % برخه جوړوله. په کورنيو محصولاتو کې د جاري حساب سلنه په نړېواله کچه د هېواد د سيالۍ وړتيا لپاره يو شاخص دی. په هغو هېوادونو کې چې د جاري حساب کسر کچه يې لوړه ده د سوداګريز بيلانس کسر موجود وي، په دې معنی چې د وارداتو کچه يې د صادراتو په پرتله زياته ده، د سيما کچه يې ټيټه او د عايد د کچې پر پرتله د خلکو د مصرف کچه لوړه ده. خلک په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

داسي حالاتو کې د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره پور اخلي. په ترکیه کې د جاري حساب کسر له ۲۰۰۱ کال راهیسی نزولي بڼه لري. په دې هېواد کې د بهرنی سوداګری بیلانس کسر په ۲۰۲۰ میلادي کال کې ۴۹،۹۲ میلیارد ډالر و (Statista - ۲۰۲۲).

که د یوه هېواد پولي واحد د تبادلي نرخ ټیټ وي، نو د هغه هېواد صادرات په بهر کې ارزنېږي او په دې توګه وده کوي. زما په آند د ترکیې ولسمشر اردوغان غواړي په دې توګه د هېواد صادرات زیات کړي، ترڅو چې د بهرنی سوداګرۍ په بیلانس کې کسر کم او یا له منځه لاړ شي. په تېرو کلونو کې په ترکیه کې د بهرنی سوداګرۍ کسر کم شوی هم دی. خو له بلې خوا په داسې یوه حالت کې د هېواد د وارداتو بیه لوړیږي. ترکیه، لکه چې مخکې اشاره ورته وشوه، د خامو، نیم کاره موادو، نفت او د انرژۍ نورو موادو وارداتو ته اړ یو هېواد دی. د دې موادو لوړه بیه په ترکیه کې د تولید شوو او هم صادراتي محصولاتو پر بیه ناوړه اغېز رامنځته کولای شي او په دې توګه هغه ګټې چې د زیاتو صادراتو له لارې تر لاسه شوې دي د ګرانو وارداتو له لارې خنثی کېدای شي. له بله پلوه هغه مؤلدین چې وارداتي خامو یا نیم کاره موادو ته اړ دي، ښایي د تولید لګښت د زیاتېدو له امله خپل تولید محدود کړي او یا هم له نورو جدي اقتصادي ستونزو سره مخ شي.

د ترکي لیرې د تبادلي نرخ د کمېدو یو بل ناوړه اغېز د مؤلدینو پرهغو پورونه رامنځته کېدای شي چې په بهرنیو اسعارو یې تر لاسه کړي دي. د لیرې ارزښت د کمېدو پر مهال د دې پورونو ارزښت په ترکي لیرې زیاتېږي، چې ښایي پوراخستونکي له جدي مالي ستونزو سره مخ کړي.

**پایله**

انفلاسیون په ملي اقتصاد کې ټل ناوړه اغېزې نه رامنځته کوي. د انفلاسیون یوه ټاکلې کچه اقتصاد له دیفلاسیونی حالت څخه راباسی. د انفلاسیون برخلاف په دیفلاسیوني حالت کې په ملي اقتصاد کې د تولید شوو محصولاتو حجم د پیسو د حجم په پرتله زیات وي، یعني مجموعي تقاضا د مجموعي عرضې په پرتله کمه وي. داسې یو حالت ملی اقتصاد له رکود او وبجاړتیا سره مخ کوی. هېوادونه له همدې کبله د اقتصادی بحران پر مهال انفلاسیون تر یوه حد تشویقوي تر څو خلک د خپلو مالی زېرمو مصرفولو ته راوپارل شي او په دې توګه په ملی اقتصاد کې مجموعي تقاضا او له هغې سره جوخت تولید او استخدام وده وکړي.

هېوادونه د اقتصادی بحران پر مهال له ټولو د مخه د مرکزي بانک له خوا د سود نرخ د ټیټولو له لارې زیار باسي چې د پیسو د ترلاسه کولو بیه ټیټه کړي او په دې توګه مؤلدین تولید ته او مستهلکین مصرف ته راوپاروی. دا کار په ۲۰۰۸/۲۰۰۹ میلادی کلونو کې له نړیوال مالی بحران څخه وروسته په ډېرو هېوادونو کې عملي شو. په زیاتو پرمختللو هېوادونو کې د سود نرخ تر اوسه هم له مالی بحران مخکې کلونو ته نه دی رسېدلی. خو ترکیه اوس مهال له دیفلاسیوني حالت سره مخ نه ده. نو له دې امله په دې هېواد کې د سود نرخ ټیټول، په داسې حال کې چې د انفلاسیون نرخ لوړ دی، کولای شي د انفلاسیون نرخ لا نور هم لوړ کړي، د بیو کچه لوړه شي او د ټولو د مخه پر لږ عاید لرونکو خلکو جدي مالي فشار رامنځته کړي.

**اخځلیکونه:**


۱- ب. جودهري، د پیسو په اړه د کلاسیکو او مونیتاریستو اقتصادپوهانو تر منځ توپیر ، ۲۰۲۱.
(په لیکه)، دلته یې وګورئ: جودهري
(د لاسرسي نېټه: ۲۰۲۲/۰۱/۱۵)

۲- ایشیکا، م. د پیسو نوي کلاسیکي نظریه، ۲۰۲۱،
(په لیکه)، دلته یې وګورئ: ایشیکا
(د لاسرسي نېټه: ۲۰۲۲/۰۱/۱۵)

۳- Investopedia، عاید ترلاسه کول، ۲۰۲۱،
(په لیکه)، دلته یې وګورئ: Investopedia
(د لاسرسي نېټه: ۲۰۲۲/۰۱/۱۵)

۴- د هېوادونو اقتصادونه، د ترکیې مرکزي بانک د سود نرخ، ۲۰۲۲،
(په لیکه)، دلته یې وګورئ: countryeconomy.com
(د لاسرسي نېټه: ۲۰۲۲/۰۱/۲۵)




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۵- FAZ، اردوغان زيات شمېر ترکي وګړي له بېوزلۍ سره مخ کوي ، ۲۰۲۱،
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: FAZ
(د لاسرسي نېټه: ۲۰۲۲/۰۱/۰۹)

۶- بي بي سي، د ترکيې انفلاسيون د مالي بحران په ترڅ کې ۳۶ % ته رسيدلی، ۲۰۲۲،
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: بي بي سي
(د لاسرسي نېټه: ۲۰۲۲/۰۱/۱۸)

۷- Investopedia-a، انفلاسيون د دوو هېوادونو ترمنځ د تبادلې پر نرخ څنګه اغيزه کوي؟، ۲۰۲۱،
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: Investopedia-a
(د لاسرسي نېټه: ۲۰۲۲/۰۱/۱۵)

۸ - Statista، ترکيه: د سوداګرۍ بيلانس له ۲۰۱۰ تر ۲۰۲۰، ۲۰۲۱،
(په ليکه)، دلته يې وګورئ: Statista
(د لاسرسي نېټه: ۲۰۲۲/۰۱/۱۵)

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ